# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبـــاد | بدین بوم و بر زنده یک تن مـــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم | از آن به که کشور به دشمن دهیم

afgazad@gmail.com | www.afgazad.com
مسایل ایدیولوژیک | Ideological

درویش وردک
۱۸ جنوری ۲۰۱۶

# اووم مجلس (په صبرکی)

شیخ عبدالقادر(قَدَسَ سِرُّهُ) دیکشنبی په ورځ د ۵۴۵ هجری قمری کال دشوال په اوولسمه نیټه په خانقاه کی داسی وفرمایل: خپل سلامونه اوصلواة دمحمّدپاکی روح اودهغی اولادی ته واستوه! (وَافْرِغْ عَلَيْنَا صَبْرًا وَثَبِّتْ اَقْدآمَنا)-«صبراوشکیبایی مونږته راکړه اومونږپایدار(کلک) وساته. سوره بقره آیه ۲۵۰شش).

(ای قومه) شکیبا اوسی، ځکه دنیا ټوله رنځ اود کړاونه دی. دهغی خلاف ناممکنه دی، هیڅ نعمت نشته چی ترڅنګ یی کړاو اومصیبت نه وی، هیڅ شادکامی نشته چی ترڅنګ یی تلخ کامی نه وی، هیڅ پراخی نشته چی ورسره تنګنایی نه وی. خپل ژوند په دنیا کی ولګوی اوخپله روزی دشرع دحدودو اوموازینو مطابق ترلاسه کړی، چی یوازی دنیا په همدی حد کی ګټوره ده.

(ای غلامه) خپله مقسومه روزی دشرعی داحکامو په رعایت سره ترلاسه کره، که صادق اومخلص مرید یی ، نوددین اوخدای داوامروپه ترسره کولوکی زیاروباسی، اوکه قانت اومقرب یی نو دخدای په غوښتنه عمل وکړه، ځکه خدای پاک مطلق آمردی، اوهغه دی چی درته امرکوی اویا منع کوی، پویا اوجویاکوی دی.

خلک دری ډلی دی: عامی، خاص اوخاص الخاص.

عامی هغه پرهیزګاره مسلمان دی چی دشرعی په پله پل ایږدی، دشرعی قوانینو ته غاړه ایږدی اوله هغی نه بیلیږی. اودخدای عزّوجلّ په قول عمل کوی چی فرمایی: (وَ مَا آتاكُمُ الرَّسُولَ فَخُذوُهُ وَما نَهاكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوا)-« هغه څه چی رسول درکړل واخلی، اوله هغه څه چی منع کړی یاست، ځان وساتی. سوره حشرآیه ۷».

هرچاچی دادستورالعملونه ترسره کړل نو دخاصانو مرحلی ته به ورسیږی،وروسته په ظاهر اوباطن کی دادستورات په کاراچوی، زړه یی منورکیږی، دهغه پواسطه وینی، اوهرکله که دشرعی په حکم له دنیاڅخه کوم شی لاس ته ورشی، زړه یی له هغه بیزاره وی. دحق دالهام په لټه کی وی، ځکه دحق الهام خاص اوعام په غیږ کی نیسی. متعال خدای فرمایی: (فَاَلْهَمَها فُجُورَها وَتَقْواها)-« نفس ته یی ټولی ګناوی اوپرهیزګاری الهام کړی. سوره شمس آیه ۸».

دزړه نه پرهیزګاره دی، اوغوړونه یی دحق الهام خواته وی اونشان یی دادی چی دشرعی په ظاهرپوری نیښتی وی. اوهرڅه چی داقتدارپه ولکه کی لری په هغی راضی وی. وروسته پرمختګ کوی اوزړه یی دحق په نورروښانه کیږی اودامرحله طبعا دظاهری عمل وروسته ترلاسه کیږی. زړه یی ددنیا له حب نه خلاصیږی، دایمان نور، دآرامش نوریی زړه ته رسیږی. داټول دشرعی دبرکاتو اودشرعی وظایفو دترسره کولو وروسته لاسته راځی.

اما ابدال چی دخاصانو خاصان دی، خپل کړه وړه دشرعی په فتوی سمبالوی. وروسته دحق اوامرو اوالهاماتوته ځیرکیږی.

له دی دریو ډلو چی یادون وشو، هره بله ډله که په هربل نامه وی، نودخدای نه غیرته گرایش بلل کیږی، اونتیجه یی هم نیستی ، رنځ په رنځ پسی، حرام په حرام پسی او درد د دردپسی، اوطاعون او سل غوندی په جسد کی وی.

(ای قومه) الهی آزماینتونه تاسوته مخ کوی، ترڅو څرگنده شی چی څه ډول عمل کوی، آیا ثابت اوپایداره یاست یا په تیښته کی؟ آیا په خپل تصدیق ولاړیاست یا په تکذیب اوانکارولاړیاست؟ څوک چی دمقدراتوسره موافقت ونلری هغه ریښتینی ملگری اوموافق نلری. څوک چی الهی قضا باندی نه وی راضی ، له ده څخه به نه وی راضی. څوک چی بخشش ونکړی وبه نه ښښل شی، هرڅوک چی دډیدار قصد ونکړی دارادی په مرکب به سپورنشی.

ای جاهله! ته قصد لری چی دخدای په کړواوغوښتنو کی بدلون راولی؟ هغه څه چی فکرپری کوی په ریښتیا ستا دوهم خدای دی. اوغواړی چی متعال خدای هم درسره مرسته وکړی.؟ مقصود ته درسیدو لپاره په باطن کی بدلون راوله، څرنگه چی دآزماینت پروخت دجواهراتو خالص اوناخالص څرگندیږی، ددرواغو ادعا هم دآزماینی پروخت څرگندیږی. دخدای درضا دلاسته راوړلو لپاره دنفس څخه دانکار په مقام کی اوسه، اوکه هرکله دنفس په انکار بریالی شوی اوله غوښتنویی مخنیوی وشی، کولای شی چی دنورو غیرو بدیو څخه هم خلاصون ومومی. پوه شه چی دایمان دقدرت په تناسب منکرات اوبدی هم له تالیری کیږی، اودضعف په اندازه یی ستا په بدن کی ځان نیسی. دایمان ځواک ددانس اوجن شیاطینو پروړاندی یوپیاوړی باثباته ځواک دی. اوهمدا دایمان قدرت دی چی دبلاو اوکړاونوپرمحال سړی پایدار اوثابت ساتی. اوکه ستا ایمان له دی ځواکونو بی برخی دی،نو دایمان دعوه مکوه.

غیرله خدایه په بل چا زړه مه تړه، ځکه که ددنیا ټول خلک سره ټول شی اووغواړی دهغه څه محبت ستا په زړه کی ځای پرځای کړی چی تری متنفره یی، وبه نشی توانیدای، ځکه یوازی خدای دی چی په ټولو اموراتو قادردی.

پردی اساس رسول اکرم( صلی الله علیه وسلم) فرمایی: (**حبب الی من دنیا کم ثلاث: الطیب والنساء وجعلت قرة عینی فی الصلاة**»-« له دنیا دری شیان می خوښ دی: ښه بوی، ښځه اودلمانځه پروخت زمادسترگویخنی.).

**«وَآتِنا فِی الدُّنیا حَسَنَةً وُ فِی الآخِرَةِ حَسَنَةً وَقِنا عَذابَ النَّارِ».!**